عمومي اسامبله
د امنیت شورا

خپرېدل: عمومي
١٨ جون ٢٠١٤
اصلي متن: انګرېزي

عمومي اسامبله
اته شپېتمه ناسته
د اجنډا ٣٧ موضوع

د امنیت شورا
نه شپېتم کال

**په افغانستان کې وضعیت**

## په افغانستان وضعیت او پر نړیواله سوله او امنیت باندې د هغه اغېزې

## د عمومي منشي راپور

**لومړی: پېژندنه**

١.	دغه راپور د عمومي اسامبلې د ٦٨/١١ ګڼې پرېکړې او د امنیت د شورا ٢١۴٥ ( سال ٢٠١۴) ګڼې پرېکړې پر بنسټ ترتیب او وړاندې کېږي کوم چې په دوارو پرېکړو کې زما څخه غوښتل شوي وو چې په هرو دریو میاشتې کې د افغانستان د پرمختګونه په اړوند راپور وړاندې کړم.

٢.	دغه راپور، زما د پخواني راپور (A/٦٨/٧٨٩-S/٢٠١٤/١٦٣) چې د ٢٠١۴ کال د مارچ په ٧ نېټه وړاندې شوي وو، په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د فعالیتونو په اړوند، د سترو بشري مرستو، پرمختیايي او د بشري حقونو هڅو په ګډون، تازه معلومات وړاندې کوي. د دې برسېره، دغه راپور د افغانستان په اړوند لنډ کلیدی سیاسی او امنیتی پرمختګونه او همدارنګه سیمه ییزې او نړیوالې پېښې وړاندې کوي.

**دوهم: اړوند پرمختګونه**

٣.	د راپور ورکولو په موده کې د ولسمشري او د ولایتی شوراګانو ټولټاکنې بهیر په افغانستان کې سیاسی، امنیتی او اقتصادی چاپېریال تر تاثیر لاندې وو. د ولسمشري د باثباته ځای ناستې بهیر د دغه ملت په تاریخ کې د اجرایه څانګې لومړنې دیموکراتیک انتقال به څرګندوي. ت دې مهاله انتخاباتي هڅې او کوښښونه ډیر کلک خو د حقوق چوکاټ او د ټولټاکنو د موسسو توظیف شوي چاروکو ته په درناوي سره تر سره شوي. په هغه شوق سره چې رایورکوونکې د ټولټاکنو په لومړي پړاو د اپریل د میاشتې په ۵ نېټه کې ګډون وکړل، د ګواښونو او ننګونو سره سره، په پراخ ډول د دیموکراتیکې پروسې په اړوند د دوی ملاتړ څرګندوي. د ټولټاکنو دوهم پړاو، د راپور ورکولو د مودې وروسته، د جون د میاشتې په ١۴ نېټه تر سره شو، چې

تمه کېږي د هغه پایلې د جولای د میاشتې په ۲۲ نېټه اعلان شي. د افغانستان ولسمشر حامد کرزی اعلان کړې چې د هغه د ځای ناستې د کار د پیل مراسم د اګست د میاشتې په ۲ نېټه تعین شوي دی.

-----------------

* د تخنیکي دلایلو پر بنسټ د ۲۰۱۴ کال د جون د میاشتې په ۲۴ نېټه بیا خپور شو.

۴. د راپور ورکوولو په موده کې یو لړ خپورې شوي اعلامیې د نړیوالو پوځې ځواکونو د وتلو د لړۍ لپاره ښه روښانه زماني چوکاټ وړاندی کړ چې په سر کې د امریکې متحده ایالات غواړي چې خپل پوځې شتون د ۲۰۱۶ کال تر پایه پوري پای ته ورسوي. خو بیا هم دا ډول ټول پلان جوړونې د افغانستان د نوي حکومت سره د اړوند حقوقی چوکات په رامنځته کولو پوری تړلي دی.

۵. زما دواړه معاونین، د سولې ساتې عملیاتو معاون، د بشري مرستو د همغږی دستیار او د بېړنیو مرستو د هماهنګ کوونکې معاون، د راپور ورکولو په موده کې د افغانستان څخه لیدنه کړې چې د سیلابونو او ځمکې ښویدنې پر مهال ترسره شوي کوم چې د دغه هیواد د مزمن زیانمنتوب یو بل پیاوړي خبر ورکوونکې دی.

**الف. سیاسي پرمختګونه**

۶. د افغانستان د ملې شورا شپاړلسمه دوره د مارچ په ۱۵ نېټه پرانیستل شو. د ملې شورا د پرانیستلو پر مهال ولسمشر کرزی د آخر ځل لپاره په وینا کې پر دي ټینګار وکړ چې حکومتی چاروکې او امنیتی نهادونه باید خپله ټوله ممکنه هڅې تر سره کړي تر څو ډاډ تر لاسه شي چې راتلونکې ولسمشری ټولټاکنی او د ولایتي شوراګانو ټاکنې په باوري ډول او د چارواکو د مداخلې پرته تر سره شي. ولسمشر خپل پر موقف ټینګار وکړ چې د سولې د خبرو اترو رسمي پیل د افغانستان او متحده ایالاتو تر منځ د دوه اړخیز امنیتی تړون د لاسلیک لپاره یو مخکني شرط وو او پر سیاسې مشرانو باندي غږ وکړ چې ملې یوالې، د بیان آزادی او د ښځو د حقونو څخه ساتنه وکړي. د ملې شورا ولسې جرګې خونه، په خپل لومړنې اقدام کې د ولسمشر هغه انتصاب تایید کړ چې په ترځ کې د بهرنیو چارو پخوانې وزیر محمد یونس قانونې د مارچ په ۹ نېټه د مارشال محمد فهیم قسیم د مړینې وروسته د هغه پر ځای تعین کړي وو.

۷. د ټولټاکنو لپاره تخنیکې آمادګې په خپل وخت بشپړ شویدي. د مارچ په ۲۸ نېټه د ټولټاکنو خپلواک کمیسیون د نویو رای ورکوونکو د ثبت کار بشپړ کړ چې ۳۷۴۶۷۵۵ نوي د رای ورکولو کارتونه توزیع کړي چې ۳۵ سلنه یې ښځینه رای ورکوونکې دي. د مارچ په ۲۹ نېټه بلواګرو په کابل کې د ټولټاکنو پر مرکزې دفتر باندې برید تر سره کړ چې د لنډې مودې لپاره د دوي کارونه د خنډ سره مخ شو، څکه چې ډیر حساس مواد له مخکې ولایتونو ته توزیع شوي وو. د ټاکنو لپاره د کمپاین موده چې د فبروري او مارچ په میاشتو کې تعین شوي وو د ستر لاریونونو شاهد وو او د لومړي ځل لپاره د ولسمشریزو کاندیدانو تر منځ تلویزیونې بحثونه تر سره شول. داسې لیدل کیږي چې دغه بحثونه او د ولایتي شوراګانو د ټاکنو په اړوند په ځایي خلکو کې د ترویج هڅې د خلکو په منځ کې د مدنې پوهاوي او د رای ورکوونکو د حضور لپاره مرسته کړي دی. ټول د کمپاین ټیمونه د ښځو چارو ته رسیدګې خپل په پلاتفورم کې ځای ورکړي وو؛ د دغو ټیمونو څخه دري تنه نوماندان ښځینه ولسمشر مرستیالان نوماندان لري. د کمپاینونو په وروستیو ورځو کې د ۱۱ ولسمشریزو نوماندانو له ډلې درې تنه نوماندانو منصرف شول: عبدالقیوم کرزی، عبدالرحیم وردګ او سردار محمد نادر نعیم. د ولایتی شوراګانو لپاره د نوماند کیدو د اهلیت د تحلیل په دوره کې، د ټولټاکنو خپلواک کمیسیون ۱۱۴ تنه نور نوماندان، چې په عمومې ډول د عمر او تحصیلی

شرایطو د نه پوره کولو په خاطر د نوماندکیدو ور و نه ګنل. د استعفا او انصراف کولو وروسته د ولایتی شوراګانو د نوماندانو شمېر ۲۵۹۲ تنو ته ورسید چې پکې ۲۹۶ تنه ښځینه نوماندانې دي.

۸. افغان امنیتي ځواکونه د ټولټاکنو د امنیت پلان جوړول او پلی کولو باندی بیا کتنه کړي چې د کورنیو چارو وزارت له خوا يې مشرې کیدل. دوه عمده عملیات چې په هغه کې ۳۵۰۰۰ پرسونل ګډون درلود، د افغانستان په سهیل او سهیل ختیزو سیمو کې، په ټول هیواد کې د راي ورکولو د لومړي پړاو لپاره د امنیت ساتلو د مقدمې په ډول د مارچ د میاشتې په پیل کې تر سره شول. پدې خاطر چې د ښځو لپاره خوندي او امن ګډون تامین شي، د کورنیو چارو وزارت ۵۸۱ ښځینه پولیس افسران او ۲۲۴۵ تنه ملکی ښځي روزلې او ۱۳۶۹۰ تنه ښځینه تلاشی کوونکي، د رای ورکولو د ورځې لپاره، په کار ګمارلي. د مارچ او اپریل په میاشتو کې طالبانو یو لړ اعلامیې خپور کړل او په هغه کې خپل هدف څرګند کړي چې دوي به د انتخاباتو بهېر په تاوتریخوالي سره ګډوډه کړي او ګډونکوونکو ته هم ګواښ کړیدی. د کابل د ټولټاکنو پر مرکزي دفتر باندي له برید وروسته، طالبانو د مارچ د میاشتې په ۲۳ او ۲۶ نېټه د کابل او لغمان د ټولټاکنو پر ولایتي دفترونو باندي پېچلې بریدونه تر سره کړیدي. د کابل د ټولټاکنو پر ولایتي دفتر باندي د برید له امله، د ټولټاکنو د کارکوونکو او د ولایتي شورا د یو کاندید په ګډون، دري تنه ملکي کسان وژل شوي او څلور تنه نور ټپیان شول.

۹. د اپریل د میاشتې په ۵ نېټه رای ورکول په ۶۰۸۲ رای مرکزونو کې تر سره شول (د رای ورکولو د محلونه ټولټال شمېر ۱۹۷۸۴ وو). کمیسیون راپور ورکړ چې د ۷۱۷۳ د رایو مرکزونو له جملې څخه چې مخکې پلان شوي وو، ۱۵ سلنه يې د امنیتي ګواښونو او یا لوژستیکی لاملونو په خاطر، د ۳۴۱ مرکزونو په ګډون چې و نه توانیدل د ټاکنو په ورځ کې خلاص شی، تړلي پاتې شول. د ټاکنو په ورځ کې ټولټال ۷۰۱۸۸۴۹ رايې ثبت شوي چې د هغه له جملې څخه ۳۶ سلنه د ښځو د رایو ورکولو د محلاتو څخه وو. د ټاکنو په ورځ کې تر ټولو ستره تخنیکی مسله د صندوقونو سهمیه وو. په ځینو سیمو، په عمده ډول په ښاري مرکزونو کې، د تمې څخه زیات د خلکو ګډون ثابته کړه چې په ځینو ځانګړو د رای ورکولو مرکزونو کې د رای ورکوونکو د لستونو د نه شتون له امله د وګړو د ګډون دقیق وړاندوینه په سمه توګه نه وو تر سره شوي. کمیسیون په ۳۴ ولایتونو کې د احتیاطي تدبیر په ډول احتمالی صندوقونه له مخکې ځای پر ځای کړي وو. په عمومې ډول افغان وګړي او رسنې د امنیتي ملی ځواکونو د کړونو څخه خوښي څرګند کړي چې د افغانی او نړیوالو همکارانو له خوا هم پراخ ستاینه شوي.

۱۰. کمیسیون د اپریل په ۲۶ نېټه د ولسمشري ټولټاکنو لومړني پایلې اعلان کړ چې نهايي پایلې د ټاکنو په اړوند د شکایاتو د ثبت او هغو ته د رسیدګی د مودې وروسته به اعلان شې. د شکایاتو د کمیسیون پرکړې، د رسنیو په حضور کې د پنځو عمومې ناستو په ګډون وو، چې د مې د میاشتې په ۱۴ نېټه اعلان شو. کمیسیون خپله نهايي پریکړه د ۶۶۰۴۵۴۶ معتبرو رایو پر بنسټ د مې د میاشتې په ۱۵ نېټه اعلان کړ. آخري پایلې د لومړني پایلو څخه لږ بدلون درلود چې په لاندې ډول دی: عبدالله عبدالله ( ۴۵ سلنه)؛ اشرف غنی احمدزی (۳۱،۶ سلنه) زلمی رسول (۱۱،۴ سلنه)؛ عبدالرب رسول سیاف (۷،۳ سلنه)؛ قطب الدین هلال (۲،۸ سلنه)؛ ګل آقا شیرزی (۱،۶ سلنه) داود سلطان زوی (۰،۵ سلنه)؛ او هدایت امین ارسلا (۰،۲ سلنه). په داسې حال کې هیڅ یو کاندید د ۵۰ سلنه څخه زیاتې رايې نه دي ترلاسه کړي، نو د اساسي قانون پر بنسټ اړتیا ده چې د دوو مخکښو نوماندناو تر منځ د دوهم پړاو ټاکنې تر سره شي. په عین ورځ کې د ټولټاکنو کمیسیون د ټاکنو د دوهم پړاو زماني چوکاټ هم اعلان کړ.

۱۱. د مې د میاشتې په ۱۵ نېټه ښاغلي عبدالله او ښاغلي غني په جلا مطبوعاتي کنفرانسو کې د ټاکنو دوهم پړاو ته خپل هوډ اعلان او د افغانستان د اتباعو څخه د دوي د ګډون په خاطر مننه وکړه. دواړو کاندیدانو د ټاکنو د نهادونو د مشرتابه څخه وغوښتل چې د ټاکنو د دوهم پړاو څخه مخکې تخنیکي ستونزي له منځه یوسي. د راپور ورکولو په دوره کې د سیاسي

ټرلتیا بدلول دوام درلود د ساري په ډول پخواني نوماندان زلمی رسول او شیرزوی او همدارنګه د سیاف د انتخاباط ملګري محمد اسماعیل خان په رسمي ډول اعلان کړل چې دوي د ښاغلي عبدالله څخه ملاتړ کوي. محمد اشرف غني هم د ښاغلی سلطان زوي او د ښاغلی رسول لومړي معاون نوماند، احمد ضیا مسعود ملاتړ تر لاسه کړ.

۱۲. د مې د میاشتې په ۱۰ نېټه ګلبدین حکمتیار د حزب اسلامی د وسله والې مخالفې ډلې مشر اعلان وکړ چې د دې خبرې په پام کې نیولو سره چې دواړه مخکښه نوماندان تعهد کړی چې د امریکې سره دوه اړخیزه امنیتي تړون به لاسلیک کړي، دوي د ټاکنو دوهم پړاو تحریموي. خو د دې سره سره د حزب اسلامی مشر اعلان وکړ چې دوي د ټاکنې پروسه او هغه وګړي چې رایه ورکولو کې ګډون کوي نه په نښه کوي. طالبان په ښکاره ډول د ټاکنو تحریم اعلان کړ: په هغه اعلامیه کې چې د جون د میاشتې په ۲ نېټه خپور شو، دغه ډله یو ځل بیا د ټولټاکنو کارکوونکې او د رایو ورکولو مرکزونه ته ګواښ وکړ او ولس ته خبرداري ورکړ چې د رایو ورکولو مرکزونو ته د تلو څخه ډډه وکړي.

۱۳. د مې د میاشتې په ۲ نېټه د ټاکنو کمیسیون په ۳۴ ولایتونو کې د ۴۵۸ ولایتي شوراګانو د څوکیو پایلې اعلان کړ. ټولټال د ۵۸۸ د رایو ورکولو د محلونو پایلې غیرباوری اعلان شو. د ګټونکو له جمعې څخه ۹۷ تنې ښځې وي (د قانون پر بنسټ په ټول هیواد کې د ولایتي شوراګانو په څوکیو کې باید ۲۰ سلنه ښځې وي). د ټاکنو د شکایاتو کمیسیون د مې د میاشتې د ۳۱ نیټې څخه بیا د جون د میاشتې تر ۵ نېټې پوري ښکاره استماعې ناستې درلود. د شکایتونو د زیات حجم په پام کې نیولو سره – ۱۲۸۳ شکایتونه د ټاکنو په اړوند او ۱۶۳۵ شکایتونه د لومړني پایلو په اړوند، د نهایي پایلې د اعلان نېټه چې مخکې د جون ۷ نېټه ټاکل شوي وو، وځنډید.

۱۴. د ټولټاکنو ږونوالې د ناظرانو او د ګوندونو او نوماندانو د استازو په حضور سره پیاوړي شوی وو. د نظارت هڅې په زیاته پیمانه په هغه ۶۷ ملې نهادونو پورې تړلې وو کوم چې د ټولټاکنو په لومړي پړاو کې ۱۴۵۸۵ تنه د ټولټاکنې ناظرین د هیواد ګوټ ګوټ ته واستول. د دې برسېره، د ټاکنو په لومړي پړاو کې ۳۶۲۷۸۰ تنه ګوندونو او نوماندانو استازی هم ثبت شوي وو چې ۲۳ سلنه يې ښځې وي. که څه هم د نړیوالو ناظرینو شمېر لږ وو خو دوي د خپلو تخنیکي او تخصصی مرستو سره د دغه پروسې څخه ملاتړ کړي دي.

۱۵. په افغانستان کې د ملګرو ملتونو مرستندوي پلاوي (یوناما) د هغه د ملاتړ کوونکې وندې په چوکاټ کې چې ورته دنده ورکړ شوي، د نوماندانو، د کمپاینې ډلو او د ټاکنو د نهادونو سره له نږدې اړیکې ټینګې کړي دي. د ټولټاکنو په دوران او په ځانګړي ډول د لومړني او نهایي پایلو د اعلان څخه دمخه چې بیانې تود او زیات شوي وو، په افغانستان کې زما ځانګړي استازي یان کوبیش د ټولو خواوو څخه وغوښتل چې د مسولیت د حس او توظیف شوي نهادونو ته په احترام سره عمل وکړي چې دغه کار په خپل ذات کې د ړنو پریکړو او د یو معتبر او پر وخت پروسې په ډاډمن کولو کې مرسته کوي. د ټولټاکنو څخه د ملاتړ د دوهم پړاو له لاري چې "د راتلونکې لپاره د ټاکنو د حقوق او ظرفیتی ځواکمنتیا" تر عنوان لاندی یادیږي، ملګري ملتونه د ټولټاکنو موسسو سره تخنیکي او مالی مرسته کړیده.

۱۶. د ټاکنو د دوهم پړاو لپاره تیاري، د کمپاینونو د دوري د پیل سره، د مې د میاشتې په ۲۲ نیټې سره پیل او روانه ده چې په هغه کې د دواړو نوماندانو تر منځ، د لومړي پړوا په پرتله، ډیر تند او شدید وو. همدرانګه یوناما خپل کار ته د درناوي ډک او د ملی یوالې په ګټه د ټاکنو د هلو ځلو هڅولو لپاره دوام ورکوي. د ټولټاکنو کمیسیون هم ولایتونو ته د رای ورکولو او حساسو موادو لېږ د مې د میاشتې تر ۲۵ نېټې پوري بشپړ کړي او د جون د میاشتې په دوهمه نېټه ولسوالیو ته د هغه لیږ پیل کړیدی. یو نوي تمرین د "زده کړې شویو تجربې" تر عنوان لاندي چې د ټاکنو د لومړی پړاو په دوره کې تر لاسه شوي وو، د

ټولټاکنې د کارکوونکو د ۱۰۰۰۰۰ تنو څخه کابو ۵۰۰۰ ته کارکونکې چې پر دوي باندي په بې نظمیو کې د برخې اخیستلو ګمان کیده، په تور لست کې شامل کړل تر څو په اداری بهېر کې ښه والې ډاډمن شي. وروسته له هغه چې د جون د میاشتې په ۴ نېټه د کورنیو چارو وزارت د ګواښونو تحلیل تر سره کړ، د ټاکنو کمیسیون اعلان کړ دوي پلان لري د ټاکنو په دوهم پړا کې ۶۲۷۲ در رایو مرکزونه چې ټولټال ۲۲۷۸۹ د رایو محلونه پکې دي، خلاص کړي. د ټاکنو د دوهم پړاو لپاره د امنیتې پلان جوړولو په پروګرام کې د کورنیو چارو وزیر تر مشري لاندي په کابل کې د مې د میاشتې په ۲۱ نېټه ټولو ولایتي امنیه قومندانانو ته یوه روځنې ناسته او د جون د میاشتې د ۳ تر ۷ نیټې پوري د امنیتي او ټاکنو ارشدو کارکوونکو او د ولایاتو ولایانو لپاره شپږ امنیتي حوزه وي معلوماتي ناستې شامل وو. د جون د میاشتې په ۶ نېټه دکابل ښار په لویدځه سیمه کې د ښاغلي عبدالله پر کاروان باندې دوه انتحارى بریدونه تر سره شول. که څه د ولسمشرۍ دغه نوماند ته کوم زیان و نه رسید خو دغه دوه بریدونه چې د پایتخت په یو د ګڼ ګوڼې څخه ډک سړک کې تر سره شو، د هغه له امله ۱۳ تنه ملکی کسان ووژل شو او ۴۳ تنه نور بې ټپیان کړل.

۱۷. یوناما د ځایي د سولې نوښت د ډیالوګ د ترویج کار ته، چې د راپور ورکولو په موده کې د ټولټاکنو په اړوند د بالقوه اشتباه ګانو او د کشمکش پر مدیریت کولو باندي تمرکز درلود، ادامه ورکړي. په ۲۰۱۴ کال کې ټولټال ۱۰ د سولې د نوښت ناستې تر سره شوي چې ۱۲ ولایتونو تر پوښښ لاندي نیولې وو. دغه نوښتونه چې په هغه کې د بیلابیلو ځایونو د سیاسي فعالینو په منځ کې د ډیالوګ د ترویج ناستي پکې شامل وو د فراه، هرات، قندهار، کنړ، لغمان، ننګرهار، نورستان او پکتیا ولایتونو کې جوړې شوي وې. د بلخ، کاپیسا او سمنګانو په ولایتونو کې د دیني عالمانو په غونډو کې د سوله یېزو ټولټاکنو په لاري اچولو کې د دیني عالمانو د ونډې څخه ستاینه وشوه. په یوه بله پیښه کې چې د دوو قومونو په هیله د مې د میاشتې د ۱۲ تر ۱۵ نېټې پورې د جلال آباد په ښار کې د یوناما تر مشری لاندي د فرهنګي مشرانو ناسته دایره شوه تر څو په ګاونډي ولایت نورستان کې د دوو قومونو تر منځ د سلو کلونو یوې شخړې ته د حل لاره وموي. د ۷۰ تنو څخه زیات استازی سره سلا شول چې د ماینونو د فرشولو او د چاودیدونکو توکو ځای پر ځای کولو ته د پای ټکی کیږدې تر څو تخریب شوي کورونه بیا ورغول شي او همدارنګه یو داسی میکانیزم جوړ شي تر څو د ځمکو او ملکیتونو پر سر شخړه حل کړي. همدارنګه یوناما د سولې لپاره د افغانانو تر منځ ډیالوګ سره خپله مرستې ته ادامه ورکوي چې دغه ډیالوګ د مدني ټولنې یو نوښت دی او د اپریل د میاشتې تر ۳۰ نېټي پورې د ولایتي سولې ۳۰ لار نخشې تسهیل او نهایي کړې دي. د جون د میاشتې په ۱۰ نېټه یو راپور خپور چې د دغه نوښت د دوهم پړاو عمده موندنې خلاصه کړي وو. په دغه خلاصه شوي راپور کې د پراخ شوي اداري فساد سره د مبارزې په ګډون، پر محلي ادارو د سمون او نظارت، د ملیشو بې وسلې کولو، د بشري حقونو د ترویج، متناسب پرمختګ، خدماتو ته لاسرسي او همدارنګه د سولي د بهېر د سراسري کولو له لارې د جګړي د کمولو لپاره یو لړ تدبیرونه وړاندي شوي وو.

۱۸. سوله د راپور ورکولو په دوران کې د پام وړ پرمختګ شاهد نه وو. افغاني چارواکو د اپریل د میاشتې په ۱۴ نېټه وویل چې معطصم آغا جان د طالبانو یو پخواني چارواکی چې غوښتل د متحده عربي اماراتو څخه د افغانانو تر منځ ډیالوګ پیل کړي، لادرکه شوی. د دې خبرې وروسته دی کابل ته راغې او وویل چې ډیر ژر به خپلې هڅې له سره پیل کړي. د راپور په دوره کې د طالبانو په داخلې لیکو کې دا ښیي چې، د طالبانو د نظامي کمیسیون د مشر د بدلون په ګډون، سخت دریزه کسان صحنې ته راځي. طالبان د اپریل د میاشتې په ۲۶ نېټه د یوې اعلامیې په خپرولو سره، په داسې حال کې چې د ټولټاکنو په لومړي پړاو کې د نارضایتی او ناکامې په اړوند افواهات رد کړل، دا خبره تاید کړل چې دغه کار ته به نور هم تحرک ورکوي. د مې د میاشتې په ۳۱ نېټه اعلان شو چې یو تن امریکایي سرباز کوم چې د طالبان سره اسیر وو، د طالبانو د ۵ تنو ارشدو چارواکو د خلاصون په بدل کې له اسارته خوشي شو. د امریکې متحده ایالاتو ولسمشر بارک اوباما د یوي اعلامې په ترځ کې د دغې تبادلې له امله خوښې څرګند کړ او هغه یې د دوي د هیواد د راتلونکې لپاره د باور د رامنځته کولو له لاري د پراخ افغاني

ډيالوګ د امید ځرک وګڼل. د جون د میاشتې په ۱ نېټه، ظاهراً ملا محمد عمر د طالبانو مشر د قطر هیواد ته د اسیرانو د انتقال څخه خوښي څرګند کړي. د جون د میاشتې په ۲ نېټه د افغانستان د بهرنیو چارو وزارت د دغه خلاصون د شیوې له امله خپل نارضايتي څرګند کړ. د دي وروسته د سولې د عالي شورا ګډ دارالنشاء راپور ورکړ چې د مې د میاشتې تر ۲۵ نېټې پوري په ۳۳ ولایتونو کې ټولټال ۸۵۵۱ تنه د افغانستان د سولې او بیا ادغام د پروګرام سره یو ځاي شوي چې موخه يې د جګړي په ډګر کې د جنګیالیو د کچې د کمښت ښودل دی.

**ب: امنیت**

۱۹. ملګري ملتونه د مارچ د میاشتې د ۱ بیا د مې د میاشتې تر ۳۱ نېټې پوري ټولټال ۵۸۶۴ پېښې، د افغانستان د ملکي فعالینو د کار، تحرک او امنیت په اړوند، په ځانګړی ډول د هغې سلسله فعالیتونه کوم چې د هغه د رسولو او پروګرام کولو چاري له مخکې تعیین شوي وو اغیزمن کړي، ثبت کړیدی. دغه شمېره ښيي چې دغه پېښې د ۲۰۱۳ کال د ورته مودي په اندول ۲۲ سلنه او د ۲۰۱۲ کال د ورته مودې په اندول ۴۵ سلنه زیاته شوي او د ۲۰۱۱ کال د ورته مودي په اندول ۶ سلنه کموالې ښيي او د طالبانو د رژیم د سقوط وروسته تر ټولو خونړي کال وو. د دغه شمېرې د جملې څخه په ۲۳ پېښو کې د ملګرو ملتونو پرسونل شامل وو چې ډیرې يې داخلي کارکوونکې دي، او په هغه کې ۱۱ د تهدید کولو او ۱ پېښه ګروګان نیول وو. د افغانستان د امنیتي ځواکونو د پاکسازی عملیاتو او د طالبانو هڅې چې غوښتل د ټولټاکنې بهیر مختل کړي، د امنیتي زیاتره پېښې د ټاکنو دوري ته منسوب کیږي. ملګري ملتونه په ټول افغانستان کې ټولټال ۴۷۶ امنیتي پېښې د رای ورکولو په ورځ کې ثبت کړي چې د دا ډول امنیتي پېښې شمېر د ۲۰۱۰ کال په پارلماني ټاکنو کې ۴۸۸ او د ۲۰۰۹ کال په ولسمشریزو ټاکنو کې ۳۱۰ پېښې ثبت شوي وو. د اپریل د میاشتې په ۵ نېټه د هیواد ختیزه سیمه د ۳۰ سلنه امنیتي پېښو او د هیواد سهیل سیمه په پراخه پیمانه د تر ټولو لږ امنیتي پېښو شاهد وو. جګړیز تاکتیکونه د تېرو انتخاباتو سره توپیر درلود ځکه چې غیرمستقیم انداختونه لږ وو او هیڅ موفق انتحاري برید هم تر سره نشو.

۲۰. د مارچ د میاشتې د ۱ نېټې بیا ته مې د میاشتې تر ۳۱ نېټې پوري وسله واله جګړه د امنیتي پېښو ۴۵ سلنه او چاودیدونکې تعبیه شوي توکې د امنتي پېښو ۲۹ سلنه جوړوي. په دې خاطر چې د ګواښ او ډار له لاري اعمال نفوذ شوي وي، هدفمند وژنې همدارنګه په لوړه کچه کې قرار درلود. د مارچ د میاشتې د ۱ نېټې څخه بیا د مې د میاشتې تر ۳۱ نېټې پوری ټولټال ۲۲۹ د ترور او یا د ترور ناکامه هڅه ثبت شوي چې د ۲۰۱۳ کال د ورته مودې په اندول ۳۲ سلنه زیاتوالې ښيي. په انتحاري بریدونو کې هم د پام وړ زیاتوالې راغلې چې د ټاکنو د دوهم پړاو په لومړې ورځ کې ۱۲ انتحاري واقعې، له دې جملې څخه د مارچ د ۲۰ نېټې بیا د اپریل د میاشتې تر ۳ نېټې پوري ۵ انتحاري حملې د کابل په ښار ثبت شوي دي. په دې دوره کې د تر ټولو سترو امنیتي پېښو کې د کابل ښار په یو مفشن هوټل کې، کله چې کورنې نوروز (په افغانستان کې د نوي کال ورځ) مارچ په ۲۰ نېټه نماځل، یو پېچلي برید وو چې د هغه په ترڅ کې ۱۰ تنه ملکې وګړي ووژل شول او په یو بل برید کې د مې د میاشتې په ۲۴ نېټه د هرات ښار په لودیځه سیمه کې د هندوستان پر قونسلګري باندي تر سره شو خو د امنیتي ځواکونو د پر وخت اقدام د انساني تلفاتو څخه مخنیوي وکړ. د بیلا بیلو مرتکبینو لخوا د بهرنیانو هدفمند وژنې د دي دوري د ځانګړتیاوو څخه وو. د مارچ په ۱۱ نېټه د کابل په یوه دیپلوماتیکه سیمه کې یو سویډنې ژورنالست د ناپژندو کسانو له خوا ووژل شو. د اپریل د میاشتې په ۴ نېټه د خوست په ولایت کې یو پولیس افسر دوه تنه ژورنالستان، چې یو تن يې جرمني عکاس وو ووژل؛ او د اپریل په ۲۴ نېټه دري تنه بهرنې اتباع هغه مهال ووژل شول چې د پایتخت په یو روغتون کې یو پولیس افسر پر هغوي باندي ډزي وکړي.

۲۱. د راپور ورکولو په دوره کې د هیواد په سهیل، سهیل ختیز او ختیز سېمو کې د ټولو امنیتي پېښو له جمعې څخه ۳۹۱۷ امنیتي پېښې پکې ثبت شوي. په دې لړ کې د هیواد په ختیز کې د پېښو کچه ستره وه چې په هغه کې په القاعده پوري تړلې ډلې، د پاکستان د طالبانو تحریک، لشکر طیبه، لشکر جنګهوی او د ازبکستان د اسلامي تحریک په ګډون، د طالبانو او د حزب اسلامی د واسله واله ډلې هڅې په دوامداره او موازي توګه افغان امنیتي ځواکونه تر خپل برید لاندي نیولی وو. طالبان د مې د میاشتې په ۸ نېټه یو اعلامیه خپور کړ چې په هغه کې د ۲۰۱۴ کال د پسرلی "خیبر" عملیاتو موخه د دولت پر ارشدو اراکینو، د پارلمان غړو، امنیتي چارواکې، هغه څارنوالان او قضایان چې مجاهدین یې تر عدلي تعقیب لاندي نیولې او همدارنګه د اشغالکوونکو پوځې ځواکونه غونډې، دیپلوماتیک مرکزونو او کاروانونو باندي بریدونه کوي. د خپور شوي اعلامېې د لاري اچولو په ورځ، د مې د میاشتې ۱۲ نېټه، د جلال آباد د محکمې ریاست د یو پېچلې برید شاهد وو چې په هغه کې ۱۲ تنه ملکي وګړي ووژل شول. د مې د میاشتې په ۲۰ نېټه کابو ۳۰۰ بلواګر جنګیالي په شمال ختیز حوزه کې د بدخشان ولایت د یُمګان د ولسوالی اداری واحد تسخیر کړل. حکومت دغه ولسوالي بېرته د مې د میاشتې په ۲۳ نېټه تر لاسه کړ. دغه برید د جګړې د موسم د پیل ځواکمنتیا ښکاره کوی چې په هغه کې ځايي ځواک د سرچینو د تر لاسه کولو لپاره د پېچلېو او سَیّال جګړو د روښانه کولو هڅې کوي.

۲۲. د مې د میاشتې تر ۱۱ نېټې پوري د افغان ملي اردو شمېر، د هوايي ځواک د ۷۰۱۳ تنو پرسونل په ګډون۱۸۵۱۳۱ تنو ته ورسید چې نهایي شمېر یې باید ۱۸۷۰۰۰ تنه پرسونل وي. په عمومي ډول سره داسې ګڼل کېږي چې د دندې څخه د تېښتي کچه ټیټه شوي ده په داسي حال کې چې نظام ته د نوم لیکنې کچه لا تر اوسه هم ټیټه ده. په داسې حال کې د ملې دفاع وزارت ټولټال ۱۱۳۸ تنه ښځېنه پرسونل لري د ټلویزیون له لاري د اعلاناتو د خپورولو سره د ښځو د ګمارولو هڅه کوي. په دغه ډګر کې د ښځو په ګمارلو کې د ښځېنه استخدام کوونکو نه شتون، ښځو ته د تسهیلاتو نه شتون، د زور زیاتې ګواښ او دودیز او کورنې خنډونه شامل دي. په مسلح ځواکونو کې د پلان جوړونې او د عملیاتونو په لاري اچول کې ظرفیتونه او پر ځان باور زیاد شوي خو ځېنې مسایل لکه د نورو نهادونو سره همغږي، د جګړې له ډګر څخه ټپې پرسونل بهر ایستل او د هوا له لاري د پرسونل بهر ایستل لا تر اوسه ندې حل شوي. د پولیس د خدماتو وړاندي کولو په اړوند د افغانستان لپاره د نظم او قانون وجهې صندوق د ملګرو ملتونو له خوا اداره کېږی چې د مې د میاشتې تر پایه پوری ټولټال ۱۴۵۹۳۹ تنه پولیس پرسونل او ۵۶۰۰ تنه د بندیخانو د مرکزي ریاست محافظینو ته مالی ملاتړ وړاندي کړي. د ښځېنه افسرانو شمېر ۱۷۴۱ او د ښځېنه محافظینو شمېر ۲۷۳ تنو ته رسیږي. د پولیسو د اکاډمې مرکز د چاودیدونکو توکو سره د مبارزي څانګه، چې د جنوري په میاشت په کال پیل کې کړي وو، د مې د میاشتې تر پایه پوري ۱۰۰ تنو ته روزنه ورکړي او په ټول هیواد کې ۸۸ ټیمونه رامنځته کړي.

۲۳. همدارنګه د افغان ځايي پولیس د سولې نوښت، په جلا ډول په سهیل ختیز او شمال ختیزو سیمو کې خپل پراخیدو ته ادامه ورکړي. د مې د میاشتې تر ۲۹ نېټې پوري د ۳۰۰۰۰ تایید شوي پرسونل له جملې څخه ۲۶۶۹۸ تنه د ۲۹ ولایتونو په ۱۴۹ ولسوالیو کې فزیکی حضور لري او ۳۳۰۲ کمبود پرسونل یا په زده کړه بوخت او یا زدکړې ته شامل شوي دي. یوناما د افغان ځايي پولیسو له خوا د بشری حقونو څخه د سرغړونې او د عدلې تعقیب څخه د معافیت د قضیو ، په ځانګړې ډول د کندز په ولایت کې، په مستندکولو بوخت دی. په نورو سیمو کې د افغان ملې پولیس کړنې د ځايي وګړو قناعت تر لاسه کړي چې په هغه کې د ټاکنو په ورځ کې د امنیتی خدمتونو وړاندي کول هم شامل دی.

۲۴. د مې د میاشتې په ۲۷ نېټه د امریکا ولسمشر بارک اوباما په راتلوونکې کې د افغانستان څخه د امریکایي پوځیانو د ایستلو پروګرام ترتیب کړ چې د ۱۰۰۰۰۰ څخه ۳۲ زرو ته کم شویدی. د ۲۰۱۵ کال تر پیل پوری د دي ځواکونو شمېر به ۹۸۰۰۰ تنو ورسیږي او د کال تر شپږمې میاشتې پوری به نیمایي ته ورسیږی چې ټول به د کابل ښار څخه بهر د بګرام په پوځي

اډه کې میشت وي. پلان داسې جوړ شوي چې د ۲۰۱۶ کال تر پایه پورې د امریکې سفارت عادی حضور او یوه امنیتي خدماتي ډله شتون ولري. یوه ورځ وروسته ولسمشر کرزی د یوې اعلامیې په خپرولو سره د دې پریکړې هرکلی وکړ، په داسې حال کې چې په ملي شورا کې یو شمېر استازی او مدني ټولنې د افغانستان د امنیتي ځواکونو د تیاری او د افغانستان په مقابل کې پراخ نړیوالې ژمنې باندې د اغیزې په اړوند خپل اندېښنه څرګند کړل. طالبانو د مې د میاشتې په ۳۰ نېټه د یوې اعلامې په خپرولو د دې اقدام په ردولو سره هغه یې "تر ۲۰۱۶ کال پورې د فساد غځېدل" یاد کړل. د جون د میاشتې په ۴ نېټه د ملی دفاع وزیران د شمالي اتلانتیک د تړون سازمان (ناټو) په مرکز کې د یوې ناستې په ترڅ د نړیوال پوځي ځواک مرستې (آیساف) پرمختګ وارزول چې د ۲۰۱۴ کال د دسمبر په ۳۱ نېټه د هغه ماموریت پای ته رسېږي. پلان داسې دی چې د زده کړې، مرسته او مشوره ورکولو یو ماموریت به شتون ولري خو پر دې باندې ټینګار شوي چې د نړیوال پوځي ژمنې د حقوق چوکاټ په دننه کې په یو تړون پورې تړلی دی.

## ج . سیمه ایزه همکاري

۲۵. د راپوروركونې په دغه موده کې، افغانستان له خپلو ګاونډیو سره، په فعاله توګه اړیکه درلوده اوسیمه ایزې همکارۍ ته وده ورکړې. د سیمې په کچه، چین، هندوستان، ایران او پاکستان د ټاکنو د لومړی پړاو د ترسره کیدو هرکلی او د سیمه ایز ثبات لپاره د بې له ستونزې سیاسي لیږد پر اهمیت ټینګار وکړ.

۲۶. د مارچ د میاشتې پر ۲۶مه نېټه، د تاجیکستان ولسمشر په کابل کې ولسمشر کرزي سره ولید او د دواړو هېوادونو د کورنیو چارو وزارتونو په کچې سربیره، د همکاریو یو شمېر تړونونه لاسلیک شول. د مارچ پر ۲۷مه نېټه، د ولسمشر کرزي په کوربتوب، د سیمه ایز نوروز جشن د نمانځلو په څنډه کې، د افغانستان، ایران، پاکستان او تاجیکستان ولسمشرانو څلور اړخیزه غونډه وکړه. د دغې غونډې په ګډه اعلامیه کې دوي د رغنده سیمه ایزې همکارۍ پر اهمیت ټینګار وکړ. په دغه اعلامیه کې د با ثباته او خوندي افغانستان لپاره د استانبول د بهیر د سیمه ایز امنیت او همکارۍ په چوکاټ کې د افغانانو په مشرۍ د روانو سیمه ایزو هڅو او د سیمه ایزې اتصال د پیاوړې کولو په موخه د زیربنایي پروژو ملاتړ شامل وو. په همدې ورځ، نړیوال بانک د کاسا ۱۰۰۰ پروژې د پور تمویل او وړیا مرستې لپاره د ۵.۵۲۶ میلیونو ډالر منظور کړ. دغه مرسته به په افغانستان، قرغزستان، پاکستان او تاجیکستان کې د برېښنا د دوامدره پلور او پېر لپاره اړین زیربنایي، سوداګریز او اداري ترتیبات برابر کړي.

۲۷. د مې د میاشتې پر ۱۹ نېټه، د پاکستان د پوځ مشر جنرال راحیل شریف د افغانستان، پاکستان او ناټو پوځي مشرانو ترمنځ اووه دېرشمې درې اړخیزې امنیتي غونډه کې د ګډون په موخه کابل ته راورسید. د دې وروسته، افغانستان او پاکستان یو پر بل د پولې په دواړو خواوو کې د بریدونو تورونه پورې کړل. د مې د میاشتې پر ۲۸ نېټه، د افغانستان د بهرنیو چارو وزارت، په کابل کې د پاکستان سفیر وروغوښت تر څو پر کنړ او نورستان ولایتونو د پاکستاني پوځ توغندیزو بریدونو او د افغانستان تر واک لاندې سیمه کې د پاکستاني پوځي تاسیساتو په وړاندې خپل اعتراض څرګند کړي. د مې پر ۳۱ او د جون د میاشتې پر څلورمه نېټه، د پاکستان د بهرنیو چارو وزارت وویل چې په افغانستان کې میشتي یاغي ډلې د پاکستان په خاوره کې پر امنیتي پوستو بریدونه کړي چې له امله یې د دوی درې سرتیري وژل شوي دي. خو د افغان چارواکو په وینا، د مې د میاشت د ۳۱ پېښې په غبرګون، پاکستاني چورلکې د افغانستان په خاوره د ننه بریدونه وکړل چې د ملکي وګړو د مرګ ژوبلې لامل وګرځید. د دې پېښې په وړاندې د اعتراض په توګه، افغانستان د هغې سیمه ایزې امنیتي غونډې پریکون وکړ چې ټاکل شوې وه د جون د میاشتې په ۴ په اسلام آباد کې ترسره شي.

۲۸. د مې د مياشتې پر ۱۹، په آسيا کې د تعامل او د باورجوړونې د اقداماتو کنفرانس په څنډه کې، ولسمشر کرزي، خپل چيناېي سيال، شي جن پينګ سره ليدنه وکړه. ولسمشر شي جن پينګ، د افغانستان د ټاکنو د لومړي پړاو بې له خنډه ترسره کيدل وستايل او د افغانستان راتلونکې ثبات او اقتصادي پر ځان بسياينې ته په پام سره، په هيواد کې نړيواله پانګونه وهڅوله. ولسمشر کرزي وويل چې ترهګرې او سخت دريځې، دوی لپاره ګډ ګواښ دی. شانګهای کې د ولسمشر کرزي سره په کتنه کې، ما په ټاکنيز بهير کې د دوامداره پرمختګ هرکلی او د وروستيو سيلاوونو او ځمکې ښويدنې په اړه خپله خواخوږي څرګندکړه. د مې د مياشتې په ۲۶، ولسمشر کرزي، په نوې ډيلي کې د هندوستان لومړي وزير، نريندرا مودي د لوړې په مراسمو کې د ګډون تر څنګ د نوموړي سره دوه اړخيزه ليدنه درلوده چې په کې د پرمختګ او د ترهګرۍ د ګواښ په اړه خبرې اترې وشوې. د مې د مياشتې پر ۳۰ او ۳۱ نېټه، د هندوستان د بهرنيو چارو نوې وزيره آغلې سوجاتها سنګه له کابل او هرات ولايت څخه ليدنه او ولسمشر کرزي او د ولسمشريزو ټاکنو دوو نوماندانو سره يې ليدنه وکړه. آغلې سنګه ټينګار وکړ چې د مې د مياشت د ۲۴ نيټې د بريد وروسته، هيواد يې په هرات ولايت کې د خپلې قونسلګرۍ د بيا پرانيستلو ټينګ هوډ لري.

۲۹. د ياد راپور په موده کې، د بارو جوړونې د دربيو اقداماتو په اړه چې د خوندي او با ثباته افغانستان لپاره د استانبول د بهير د سيمه ايز امنيت او همکارۍ په غونډه کې را په ګوته شوي وو، د پرمختګ په موخه يو لړ فعاليتونه او تخنيکې لاندې غونډې ترسره شوې: د ترهګرۍ پر ضد د باورجوړونې د اقدام په لړکې، د مې د مياشتې پر ۸ او ۹ نېټه، په کابل کې د تعبيه شوې چاوديدونکو توکو ضد ورکشاپ، د ناورين د مديريت د باورجوړونې د اقدام په لړکې، د مې د مياشتې پر ۱۲ او ۱۳ نېټه په اسلام آباد کې د ګډ عمل پلانونو لپاره د خطراتو د تجربو د شريکولو او د سيمې انځور رامنځه ته کولو په اړه نړيوال کنفرانس او د سيمه ايزې تخنيکي ډلې غونډه، د سوداګريزو آسانتياوو د باور جوړونې د اقدام په لړ کې، د مې د مياشتې پر ۱۵ نېټه په نوې ډيلي کې د کاروبار، سوداګرۍ او پانګونې د فرصتونو په اړه د سيمه ايزې تخنيکي ډلې غونډه چې په کې ۲۰۱۴ – ۲۰۱۵ کال لپاره کاري پلان جوړشو. د آسيا زړه هيوادونو د وزيرانو څلورم کنفرانس لپاره چې ټاکل شوې د ۲۰۱۴ د اګست په مياشت په چين کې ترسره شي، چمتووالی دوام درلود.

۳۰. د مې د مياشتې په ۱۵ نېټه، د افغانستان او پاکستان په اړه د تماس نړيواله ډله په ټوکيو کې غونډه وکړه. په ياده غونډه کې د ۲۰۱۴ د ټاکنو پر بهير، د ټوکيو د دوه اړخيزې حساب ورکونې چوکاټ د وزيرانو د بيا کتنې راتلونکې غونډې لپاره ترتيبات چې د ۲۰۱۴ کال په وروستيو په لندن کې ترسره کيږي، او د افغانستان د امنيتي ځواکونو لپاره د نړيوال ملاتړ پر دوام خبرې اترې وشوې.

**۳. بشري حقونه**

۳۱. د ۲۰۱۴ د مې د مياشتې تر ۳۱، يوناما په افغانستان کې د وسله والو شخړو له امله د وژل شويو ملکي وګړو شمېر ۱۱۴۳ او د ټپيانو شمېر ۲۲۱۴ ثبت کړ. د ملکي تلفاتو دغې شمېرې، د ۲۰۱۳ کال په پرتله۱۱ سلنه زياتوالی ښيي. يوناما د دغو تلفاتو ۷۸ سلنه دولت ضد عناصرو او ۸ سلنه دولت پلوو ځواکونو ته منسوب کړې. د تلفاتو ۸ سلنه د ښکېلو غاړو تر منځ د ځمکنيو نښتو پر مهال د ډزو د تبادلې له امله رامنځ ته شوې او ۶ سلنه تلفات غير متعين دي چې تر ډيره حده د جګړې چاوديدونکو پاتو شونو له امله رامنځ ته شوي دي. د جنوري د مياشتې لومړۍ نېټې څخه د مې د مياشتې تر ۳۱ نېټې پورې په ملکي تلفاتو کې ۷۹ مړي او ۲۱۹ ټپيان دي چې پر ټاکنيزو کارکوونکو او مرکزونو، رايه اچوونکو، ټاکنيزو کاروانونو او انګړونو باندې د حکومت ضد عناصرو د بريدونو له امله رامنځ ته شوي. يوناما د دولت ضد عناصرو ته منسوب ۱۲۲ داسې پېښې هم ثبت کړي چې په کې د ډارونې جدي کړنې لکه د مرګ ګواښ او د ګوتو غوڅول (چې رايه کارونه ثابتوي) شامل دي خو تر دې دمه داسې ثبوت نه دی موندل شوی چې دغې کړنې ترسره شوې وي. د اپريل د مياشتې تر ۵ نېټې، يوناما د دولت

ضد عناصرو له خوا د رايه اچونې مراکزونو ته څېرمه بريدونو کې د ٣٣ ملکي وګړو وژنې او ١٢٦ نورو ټپي کيدل ثبت کړی دی.

٣٢. تبعيه شوي چاودېدونکې توکې د ملکي وګړو د تلفاتو اصلي لامل وو. د جنوري د مياشتې لومړۍ نېټې څخه د مې د مياشتې تر ٣١ نېټې پورې، د ملکي وګړو ٣٢ سلنه تلفات د تبعيه شويو چاويدونکو توکو له امله رامنځ ته شوې وه چې له امله يې ٣٣١ ملکي وګړي وژل شوي او ٧٣٤ تنه ټپيان شوي ول، چې د ٢٠١٣ د همدې مودې په پرتله ٣ سلنه زياتوالی ښيي. د ملکي تلفاتو يادو شميرې ٥٠ سلنه په سُهيل سيمه د هلمند او کندهار ولايتونو کې رامنځ ته شول. د تبعيه شوو چاوديدونکو توکو له امله ٣٨ سلنه ملکي تلفات د لري واټن د کنټرول په واسطه رامنځ ته شوي چې د ٢٠١٣ په پرتله ١٠ سلنه کموالی ښيي. د فشاري (د قربانۍ په واسطه فعاليدونکې) د تبعيه شويو چاوديدونکوتوکو د تلفاتو تناسب د ٢٠١٣ کال په پرتله ۴۴ سلنه ډېر شوی دی. په قربانيانو کې ١٢ ملکي وګړي شامل وو چې دوي د مې د مياشتې پر ٣١ په غزني ولايت کې په دوو ميني بسانو کې سپاره د واده مراسمو ته روان وو چې د دوی موټر د دغه شان سړک غاړې چاويدونکې توکې سره مخامخ شو او په قربانيانو کې ډيری ښځې او ماشومان وو. د جنوري د لومړۍ نېټې څخه د مې د مياشتې تر ٣١ نېټې پورې، په لومړي ځل د تبعيه شويو چاوديدونکو توکو له امله د ملکي وګړو تلفات د ځمکنيو نښتو د تلفاتو سره تقريبا برابر وو (٣١٠ تنه ملکي وګړي وژل شوي او ٧٥٢ تنه ټپيان دي) چې د ٢٠١٣ د ځمکنيو تلفاتو په پرتله ٣٩ سلنه زياتوالی ښيي. د يوناما له خوا ثبت شوي ارقام ښيي چې د کال په لومړيو پينځو مياشتو کې د ښځينه قربانيانو په شمېر کې ٢٠ سلنه زياتوالی راغلی دی چې په کې ١٠٢ تنه مړه او ١٨٩ تنه ټپيان شامل دي.

٣٣. د وسله والو شخړو او ماشونو په اړه د هېواد د نظارت او راپوروکونې ځانګړې ډله د ماشومانو د حقونو په وړاندې د سختو سرغړونو د پېښو راپورونه تر لاسه کړي دي. د فبرورۍ لومړۍ نېټې څخه د اپريل تر٣٠ نېټې پورې، د افغانستان په وسله والو شخړو کې ١٢٣ ماشومان وژل شوي او ٣٠١ تنه نور ټپيان شوي دي؛ د دغو پېښو ٨٨ سلنه په سهيلي حوزه کې رامنځ ته شوې. د ماشومانو د مرګ ژوبلې ستر لامل تبعيه شوې چاوديدونکې توکې دي چې له کبله يې ۴٢ ماشومان وژل شوي او ٨٢ تنه ټپيان دي. د ناچاوديدلې مهماتو، د جګړې چاوديدونکو پاتو شونو او ماينونو له کبله ٢٧ ماشومان وژل شوي او ۴٦ تنه ژوبل شوي دي. د ماشومانو له حقونو څخه د سختو سرغړونو په نورو پېښو کې چې ثبت شوي: د روغتيايي خدمتونو پر مراکزو ١١ بريدونه، پر ښوونځيو او ښوونيز پرسونل باندې ٨٣ بريدونه، د دولت ضد عناصرو او د افغان ملي پوليسو په ليکو کې د ماشومانو د ګمارنې ۶ پېښې، د افغان امنيتي ځواکونو په ليکو کې د ماشومانو په وړاندې د جنسي تيری ٢ پېښې، د دولت ضد عناصرو له خوا د تښتونې ٣ پېښې، د افغان ملي پوليس، طالبانو او د دولت ضد عناصرو له خوا بشردوستانه لاسرسی ته د امتناع ١٧ پېښې شامل دي.

٣۴. د اپريل پر ٢۴، د افغانستان دولت، د ماشومانو او وسله والو شخړو د کاري پلان د تطبيقولو درېيم راپور د ملګرو ملتونو سازمان ته وړاندې کړ. په دغه راپور کې په ٢٠١٣ کې د ماشومانو د ګومارنې څخه په مخنيوي کې پرمختګ په ګوته شوی، چې په کې د ماشومانو د وژنې، معيوبولو او جنسي تاوتريخوالی په اړه راپور هم شامل وو. په دغو فعاليتونو کې ښوونيز ورکشاپونه او سيمينارونه شامل وو او سربيره، د ولايتي امنيه قومندانې کې ١۶ ماشومان د پېژندګلوي ورسته له دندې لرې کړاي شول. د دې هڅې سره چې افغانستان بيا د ماشومانو او وسله والو نښتو په اړه زما په کلنۍ راپور کې شامل نه ووسي، د دولت او د ملګرو ملتونو د سلا مشورې سره د ماشومانو او وسله والو شخړو په اړه د کاري پلان د لا زيات پلي کولو لپاره تګلاره جوړه شوې خو نهايي منظوري يې پاته ده. د مې د مياشتې پر ١٢ نېټه، ديني عالمان او حقوقي کارپوهانو سره د يو لړ ګردي مېز بحثونو وروسته، يوناما "د افغانستان په وسله والو شخړو کې د ماشومانو خونديتوب" تر سرليک لاندې يوه رساله خپره کړه چې د ماشومانو د حقونو په وړاندې پر شپږو سختو سرغړونو باندي تمرکز کوي. د ملاتړ د وسيلې په توګه، دغه رساله، د ملي او نړيوال قانون او د اسلام بنسټيزو اصولونو پر اساس ليکل شوې ده.

۳۵. د جزا نوي ګډ د مې د میاشتې پر ۵ خپور او د جون د میاشتې پر ۵ نافذ شو. د مې میاشتې پر ۱۷، ولسي جرګې د ولسمشر تقنیني فرمان، په ۲۶ ماده کې تعدیل تصویب کړ. د دغه تعدیل له مخې، چې پخواني قانوني احکام یې هم برقرار کړل، د کورنیو تاوتریخوالو په قضیو کې ښځې کولای شي د خپلو خپلوانو د عدلي تعقیب لپاره د دوي پر خلاف ګواهي ورکړي. د فرمان په نورو احکامو کې، په جنايي قضیو کې د پلټنو او پروسې په جریان د مدافع وکیل لازمي شتون، په محکمه کې د محاکمې د مخه د توقیف د مودې د غځولو پر خلاف د اعتراض حق او د بندیانو د حقوقي خوندیتوب پیاوړتیا شامل وو. د پرمختګونو سربېره، داسې اندېښنې شته چې محکمې ته د وړاندې کولو د مخه وګړي تر ۱۸ ورځو تر توقیف لاندې ساتل، له نړیوالو مکلفیتونو سرغړونه ده. یوناما او د ملګرو ملتونو سازمان نورې ادارې د هېواد عدلي ارګانونو ته د نوي جزايي قانون د وېشلو د هڅو ملاتړ ته دوام ورکړ.

۳۶. یوناما د هغو بندیانو سره چې په شخړو کې ونډه لرله، د چلند د موندلو په موخه د دولت تر نظارت لاندې توقیف ځایونو څخه لیدنه وکړه. د دغه راپور په موده کې، یوناما په لسو ولایتونو کې د ملي امنیت ریاست، افغان ملي پولیس، د محابسو مرکزي ریاست او د افغانستان ملي پوځ تر نظارت لاندې شلو توقیف ځایونو څخه لیدنه وکړه.

### ۴. د کابل پروسې تطبیق او د پرمختیایي مرستو انسجام

۳۷. په داسې مودې کې چې ټاکنیز سیالۍ دوام درلود او خلګ سیاسي لیرد ته سترګې په لار وو، د ټوکیو کنفرانس د دوه اړخیزې حساب ورکونې په چوکاټ کې د ټاکل شویو معیارونو په مقابل د دوامداره پرمختګ تضمینولو لپاره دولت او نړیوال مرستندویان پر تخنیکي لاسته راوړنو تمرکز درلود. د مې د میاشتې پر۱۰، د مالیې وزیر، د پارلمان د غړو، د نړیوالې ټولنې، اړوندو وزارتونو، مدنې ټولنې او خصوصي سکتور د استازو په یوه غونډه کې د دوه اړخیزې حساب ورکونې په چوکاټ کې د ژمنو په اړه د دولت پر پرمختګ رڼا واچوله. د مالیې وزیر له خوا اعلان شویو لاسته راوړنو کې: د ښځو په وړاندې د تاوتریخوالی د له منځه وړلو د قانون په تطبیق کې مرسته چې لومړنی راپور یې د مارچ پر اتمه د ښځو د چارو وزارت له خوا خپور شو؛ د مې د میاشتې پر ۳، د ولسي جرګې له خوا د معدنیاتو او د زیات شوي ارزښت مالیې قانون تصویب؛ د مې د میاشتې پر ۲۴ ملي شورا ته د پیسو د مینځلو د مخنیوي او د ترهګرۍ د تمویلولو په وړاندې د مبارزې؛ او د مې د میاشتې پر ۲۹، د مالیاتو د اداره کولو قانون معرفي کول شامل وو. وروسته، د جون د میاشتې پر دربیمه، د زیات شوي ارزښت مالیې قانون د مشرانو جرګې له خوا تصویب شو. تمه ده چې د معدنیاتو او د پیسې مینځلو په وړاندې د مبارزې د قانون په اړه بحثونه ادامه ومومي خو یو شمېر اندېښنې شته چې باید لرې کړای شي تر څو نړیوالو مکلفیتونو سره د افغانستان متابعت ډاډمن شي.

۳۸. د افغانستان اقتصادي وضعیت د اندېښنې وړ دی. په اپریل کې د نړیوال بانک او د آسیا پرمختیایي بانک له خوا خپاره شوي اقتصادي لرلید، د افغانستان اقتصادي وده مخ پر کمیدو بللې چې لامل یې تر زیاته اندازه، سیاسي او امنیتي لیرد، امنیتي لګښتونو او د عوایدو د کمیدو له امله د مصرف کوونکوو او پانګه وال بې باوري ده. د نړیوال بانک د وړاندوینې پر بنسټ د افغانستان اقتصادي وده چې په ۲۰۱۲ کې 4.14 سلنه او په ۲۰۱۳ کې ۳،۶ سلنه اټکل شوې وه، په ۲۰۱۴ کې به ۲.۳ وي. د مالیې او ګمرکي چارواکو د کمزوره اجرااتو له امله د دولت عوایدو راټولونه د تمې تر کچه لږ وه. د پیسو د نړیوال صندوق په راپور کې چې د مې د میاشتې په ۱۶ خپور شو، د خزانې د تنګسې وضعیت لامل هم همدغه ښودل شوی وو. په راپور کې ټینګار شوي چې دولت دي خپل لګښتونه لږ او د عوایدو راټولونه ډېره کړي، د مالیې او ګمرکي چارو تطبیق لا پیاوړې

او سم مالي اصلاحي چوکاټ وضع کړي. د دې شان ټيټ اقتصادي فعاليتونو اغېزه په دې مانا ده چې په اوسنيو حالاتو کې د ولايت په کچه د دولت د پرمختيايي چارو ژمنې ځنډول شوې دي.

۳۹. د مې دمياشتې پر ۶ نېټه، دولت د ۲۰۱۹ – ۲۰۱۵ کال لپاره د ملګرو ملتونو د پرمختيايي مرستې چوکاټ، چې د دولت له قوله، د دوی پروګرامونو او پرمختيايي پلانونو سره په سمون کې دی، اصولاً تصويب کړ. پر زيربنايي او د کاري فرصتونو پر رامنځ ته کولو د قوي تمرکز غوښتنه وشوه او داسې ښکاري چې د راتلونکې اداره به يو ځل بيا پر ياد شوي سند بيا کتنه وکړي. دغه چوکاټ د دولت د پرمختيايي اجندا د کليدي برخو، چې پر مشروع اقتصاد، بنسټيزو خدمات، ټولنيز مساوات، د قانون حاکميت او حکومتولي تمرکز لري، ملاتړ کوي.

## ۵. بشردوستانه مرستې

۴۰. د افغانستان په شمالي سيمو کې يو لړ بيړني حالات، سخت موسمي ورښتونه او تر اوسط درجې زيات د واورې اوبه کيدل طبيعي آفتونو ته د افغانستان په شان د بې وزله هيواد مزمن زيانمنتوب رابرسيره کړ. د مې د مياشتې پر ۲، په بدخشان ولايت کې د سترو ځمکې ښويدنې پېښو کې ناتاييد شوی شمېر کسان ووژل شول. په مجموعي ډول د مې د مياشت په لړ کې د افغانستان په ۱۳۲ ولسواليو کې ځمکې ښوويدنې او سيلاوونه، شاوخوا ۱۵۰ زره کسان اغيزمن کړي او۱۶۴۷۱ کورونه زيانمن او يا له منځه وړي دي. د جون د مياشتې پر شپږمه، بغلان ولايت کې نور ناڅاپي سيلاوونه دروند ځاني زيان اړولی او په سلګونو کورونه ويجاړ کړي دي. جوزجان، سرپل، فارياب، بلخ او بغلان ولايتونه تر ټولو زيات اغيزمن شوي دي. د ۲۰۱۳ کال د سيلاوونو بېې ته په پام سره، چې ۲۰۴ زره کسان يې اغيزمن او ۲۲ زره کورونه ويجاړ کړي وو، د بيړنيو مرستو پلان وار دمخه چمتو وو. د مرستو د سامان زيرمې کافي وې خو يوازينی خنډ د سيلاوونو له امله د زيربناوو زيانمن کيدل او په متنازع سيمو کې امنيتي ننګونې وې.

۴۱. د مې مياشتې پر پنځمه او شپږمه، په بشردوستانه چارو کې زما د عمومي سرمنشي مرستيال له کابل او بدخشان ولايتونو څخه ليدنه وکړه. نوموړي له شخړو او طبيعي ناورينونو څخه اغيزمنو زيانميدونکو ټولونو سره د مرستو پر دوام ټينګار وکړ او خبرداری ورکړه چې د سياسي ليږد په موده کې په مرستو کې د پام وړ کمښت به ورانوونکې پايلې ولري. د ۲۰۱۴ د مې د مياشتې تر ۳۱، د سره صليب او سره مياشت موسسو په ګډون د بشردوستانه مرستو د تمويل لپاره، افغانستان ۲۴۴ ميليونه ډالره ترلاسه کړي دي. د ملګروملتونو د استراتيژيک غبرګون پلان سره په سمون د بشري مرستو تمويل، د اړتيا د غوښتنې ۴۰ سلنه وه. د نوې جوړه شوې د بشرې مرستو ګډ صندوق د ۲۰ ميليون دالرو معياري تخصيص د مې په مياشت کې نهايي شو. په دغه تخصيص کې په عمده توګه په سهيلي او سهيل ختيځ سيمو کې، ۸۰۰ زره افغانانو ته د اړين صحي خدماتو لاسرسي او ۴۰۰ زره سخته خوارځواکو ماشومانو ته د مرستې لومړيتوب ورکول شو.

۴۲. د مارچ د مياشتې پر ۲۶مه نېټه، د کورنيو بې ځايه شويو کسانو ځانګړې ډله چې رياست يې په ګډه د کډوالو او راستنېدونکو چارو وزارت او ملګري ملتونه په غاړه درلود، د کورنيو بې ځايه شويو کسانو لپاره د ملي تګلارې د پلي کولو کاري پلان منظوري ورکړه. دغه ځانګړې ډله، د فبرورۍ د لومړۍ نيټې څخه بيا د اپريل تر ۳۰ نيټې پورې، د شخړو له امله په فارياب، بلخ، فراه، غور، کابل، ننګرهار کاپيسا او بادغيس ولايتونو کې د ۶۷۷۹ کسانو بې ځايه کيدل ثبت کړی دی. د دې سره د هيواد په کچه د شخړو له امله د داخلي بې ځايه شويو کسانو شمېر ۶۶۰ زره کسانو ته رسيدلی. د اپريل په ۳۰، په پاکستان کې د ايالتونو او سرحدي سيمو وزارت او د ملګرو ملتونو د کډالو اداره، په دواطلبانه توګه د افغان کډوالو بېرته

راستنیدو د ملاتړ، دوامدار ادغام او کوربه هیوادونو ته د مرستې د حل تګلارې لاندې د ورانديز شویو پروژو په اړه معلومات پلې کړ. د بیړنیو مرستو څخه نیولې بیا تر اوږدې مودې پرمختیايي مرستو د دغو پروژو موخه دا ده چې افغانستان کې د کډوالو دوامداره راستنیدل او ادغام ډاډمن شي. په پاکستان کې مېشت د افغان کډوالو د راجستر کارتونو د تجدید پروژه چې د فبرورۍ په میاشت کې پیل شوې وه، د ۲۰۱۵ د دسمبر تر ۳۰ نېټې پورې به دوام ولري. د مې د میاشتې ترپایه، په پاکستان کې د راجستر شویو ۱،۶ میلیونو کډوالو څخه ۷۵ سلنه دغه بهیر بشپړ کړ. د فبرورۍ لومړۍ نیټې څخه بیا د اپریل تر دېرشمې نیټې، د ملګرو ملتونو په مرسته، ۳۵۳۵ کډوال په داوطلبانه توګه افغانستان ته راستنه شوي چې په کې ۲۰۶۱ له پاکستان، ۱۴۲۹ له ایران او ۴۵ تنه له هندوستان څخه راکډه شوي. د ۲۰۱۳ د همدې مودې په پرتله د کډوالو په راستنیدو کې ۶۴ سلنه کموالی راغلی دی.

۴۳. د بشري چارو د هممغږۍ دفتر د نړیوالې څارنې په چوکاټ کې بشري مرستو ته لاسرسي په اړوند د خنډونو د ثبتولو بهیر ته دوام ورکړ. تر ټولو زیات د اندېښنې وړ د روغتیايي تاسیساتو پر پرسونل او مادي شتمنیو بریدونه او له روغتیايي سهولتو څخه سرغړونه ده. د ۲۰۱۴ د اپریل د میاشتې تر ۳۰، د روغتیايي بنسټونو پر پرسونل او مادي شتمنیو د بریدونو ۸۲ پېښې ثبت شوي چې له امله یې ۲۲ کسان وژل شوي، ۱۱ تنه ټپیان شوي، ۸۳ تنه برمته او یا د برمته کولو هڅه شوې او پینځه مرستندویه کارکوونکي نیول شوي او تر توقیف لاندې ساتل شوي دي. د جنوري د میاشتې له لومړۍ نیټې څخه د اپریل تر ۳۰ پورې ۳۶ پېښې داسې دي چې په کې روغتیايي بنسټونه او شتمنې اغېزمن شوي چې ډېرى یې په ختیځو او مرکزي ولایتو کې رامنځ ته شوي. د ټاکنو د لومړي پړاو د مخه، مرستندویه ټولنه د هغو روغتیايي کلینیکونو او ښوونځیو د خوندیتوب پر مکلفیت په کلکه ټینګار وکړ چې د رایه ورکونې د مراکزو په توګه کاریږي. د ټاکنو پر لومړۍ ورځ، له ۱۷۳ روغتیايي مرکزونو څخه دوه او له ۳۵۴۶ ښوونیزو تاسیساتو څخه ۴۵ چې د رایه اچونې د مراکزو په توګه کاریدل، د ټاکنو اړوند تاوتریخوالو څخه اغېزمن شول. دغې شمېرې د ۲۰۰۹ په پرتله په پېښو کې شاوخوا ۶۷ سلنه کموالی ښيي.

۴۴. د مې د میاشتې تر ۳۱ نیټې، د افغانستان په ختیځو سیمو کې د ماشومانو د ګوزڼ څلور پېښې ثبت شوې وې چې د پولې پر دواړو خواوو د همکارۍ، همغږۍ او په پاکستان کې د ګوزڼ د واکسین کمپاینونو سره د هممهالولو اهمیت لا تقویه کوي. په عمومي ډول، د ګوزڼ د واکسین پروګرام کارکوونکي د هیواد ناامنو سیمو ته هم لاسرسي درلوده خو د ټاکنو بهیر په ځینو سیمو کې د واکسین پر کمپاینونو منفي اغیز لرلی دی.

۴۵. د راپور د مودې په ترځ کې د ملګرو ملتونو سازمان په مرسته، د ماین پاکې سکتور، د جګړې ۱۰ میدانونه، د ماینونو ۱۴۴ میدانونه پاک کړي دي او شېږ نور ولسوالۍ له ماینونو پاک اعلان شول. د مارچ او اپریل د میاشتو په ترځ کې د ماینونو او ناچودیدلو مهماتو په پېښو کې د تلفاتو ۵۷ پېښې رامنځ ته شوي چې له دغو پېښو څخه ۱۶ په هغو سیمو کې رامنځ ته شوي چې د نړیوال پوځ پخواني اډې او یا د ډزو د انداخت ساحې دي. د آیساف په مرسته، د ملګرو ملتونو سازمان هڅه کوي چې د نړیوال پوځ هغې سیمې چې تړل شوي او یا بل ځای ته نقل شوي، له ناچودیدلو مهماتو څخه پاکې وي. تر دې دمه، د ډزو د انداخت د ساحو ۸۱ کیلومتره مربع پاکه شوې ۳۳ زره چاودیدونکې توکې او د سپکو وسلو شاو خوا ۱۳ زره مهمات له منځه وړل شوي دي. تر ۲۰۲۳ کال، افغانستان له هر ډول خطراتو څخه د پاکولو د لس کلن کاري پلان لومړی کال د مارچ په میاشت کې پای ته ورسید؛ د لومړي کال په ترځ کې ، ۸۷،۲ کیلومتره مربع ځمکه پاکه شوه. اټکل کیږي چې د افغانستان په ۳۳ ولایتونو کې ۴۰۱۸ د ماینونو او ۲۱۸ د جګړې ډګرونه چې په ۳۳ ولایتونو کې ۱۶۰۹ ټولنې ورڅخه اغېزمنې دي، پاکیدو ته اړتیا لري.

**۶. د مخدره توکو پر ضد مبارزه**

۴۶. د مارچ د میاشتې لومړي نېټې څخه د مې د میاشتې تر ۳۱ نېټې پورې، د افغانستان د مخدره توکو پر ضد د مبارزې پولیس، ۶۷۸ عملیات تر سره کړل چې له کبله یې ۵۸۳ تنه ونیول شول، د هیروین جوړولو ۶ ناقانونه لابراتوارونه له منځه یوړل شول، او د مخدره توکو د جوړولو ۲۲۶۴۶ کیلو ګرامه کیمیایي توکي، ۷۹۱۱ کیلوګرامه تریاک، ۴۸۴۰ کیلو ګرامه بنګ، ۴۲۳ کیلوګرامه هیروین او ۲.۱ کیلوګرامه میتامفتامین ونیول شول. د یادشوي عملیاتو په ترڅ کې ۴ پولیسان ووژل شول او اووه نور ټپیان شول. د ملګرو ملتونو په ملاتړ، د کابل له هوايي ډګر څخه د قاچاق د مخنیوي د هڅو لاپیاوړې کولو په موخه یولړ تربیوي او ښوونیز پروګرامونه په لاره واچول شول. په پایله کې، د مارچ د میاشتې له لومړي نېټې څخه د مې د میاشتې تر ۳۱ پورې، د کابل په هوايي ډګر کې ۱۷ کیلوګرامه هیروین ونیول شول. د هرات، کندهار او مزارشریف په هوايي ډګرونو کې همدې شان هڅو ته اړتیا شته.

۴۷. د مې میاشتې تر ۲۷ نېټې پورې، د مخدره توکو پر ضد د مبارزې وزارت او د ملګرو ملتونو د ارقامو پر بنسټ، د افغانستان په ۱۳ ولایتونو کې د کوکنارو تر کښت لاندې ۱۴۷۳ هکتاره ځمکه له منځه یووړل شوې؛ په هلمند ولایت کې ۹۰۱ هکتاره، اروزګان ۲۲ هکتاره، کندهار ۹۴ هکتاره، کونړ ۷۵ هکتاره، ننګرهار ۴۳ هکتاره، بدخشان ۴۰ هکتاره، بلخ ۳۶، کاپیسا ۲۴، زابل ۱۲، فاریاب ۱۰، کندز ۹، دایکندي ۶، او په لغمان ولایت کې ۱ هکتاره ځمکه له منځه وړل شوې دي. په اړوندو پېښو کې ۱۳ تنه وژل شوي چې په کې اته پولیس، د پوځ درې سرتیري او دوه بزګران شامل دي. د ۲۰۱۳ د همدې مودې په پرتله پاکه شوې ځمکه (چې ۴۷۲۴ هکتاره وه) ډېره کمه ده. د مې د میاشتې پر ۲۷، د سره میاشت ټولنې د رییس په ګډون د ځلورو وزارتونو استازي مشرانو جرګې ته احضار شول تر څو په روان فصل کې د کوکنارو د ډېر لېږې مځکې د له منځه وړلو په اړه د سناتورانو مخ پر زیاتیدونکو اندېښنو ته ځواب ووایي.

۴۸. د مارچ پر ۱۸ نېټه، په ویانا کې د مخدره موادو د کمیسیون د اووه پنځوسمې غونډې په څنډه کې، د افغانستان او د سیمې هیوادونو لپاره د سیمه ایز پروګرام د مرکزي کمیټې دربیمه ناسته تر سره شوه. په دغه ناسته کې د مرستندویانو تر څنګ د یادې کمیټې اته غړي هیوادونه (افغانستان، ایران، قزاقستان، قرغزستان، پاکستان، تاجکستان، ترکمنستان او ازبکستان) ګډون وکړ. په دغه ناسته کې د ۲۰۱۳ کال په لړ کې په څلورو فرعي پروګرامونو (د قانون نافذول، جزایي عدالت، په تقاضا کې کمښت او د څېړنې ملاتړ) کې د پرمختګ یادګیرنه وشوه. په ورته وخت، په سیمه کې د مخدره موادو په وړاندې د مبارزې په ډګر کې د همکارۍ د پیاوړې کولو لپاره د افغانستان-قرغزستان-تاجکستان نوښت او د پاکستان-ایران-افغانستان درې اړخیز نوښت د وزیرانو د بیاکتنې ناستې هم ترسره شوې. د درې اړخیزې نوښت ناسته د مخدره توکو د کنترول او د سرحدونو د کنټرول په برخو کې د همکاریو د زیاتولو د یوې ګډې اعلامیې په لاسلیکولو پای ته ورسیده. د مې د میاشتې پر ۲۹ نېټه، د افغانستان-قرغزستان-تاجکستان د نوښت د لوړپوړو چارواکو ناسته په دوشنبه ښار کې او د وزیرانو ناسته راتلونکې ورځ تر سره شوه. د خبرو اترو وروسته چې د قانون پلي کوونکو او قضایي ارګانونو تر منځ پر همکارۍ ټینګار کاوه، دغه ناسته، د مخدره توکو پر وړاندې د مبارزې په برخه کې د همکارۍ د یوې اعلامیې په خپرولو سره پای ته ورسیده.

**۷. د ماموریت ملاتړ**

۴۹. د ادارې د عمومي لارښود سره سم، یوناما د ټاکنو نه وړاندې یو لړ عملیاتي او د بیړنیو حالاتو پلان جوړونې مشقونه تر سره کړل تر څو د سوداګریزو فعالیتونو پر دوام، د کړکیچ د اداره کولو او پر امنیتي پلانونو غور وکړي. یوناما د ایل ایکټ ۲ (د سبا لپاره قانوني او ټاکنیز ظرفیت لوړول – دوه یم پړاو) د ملاتړ لپاره دوې چورلکې په کرایه واخیستې تر څو د ټاکنیز بهیر په اوږدو کې لوژیستیکي مرسته برابره کړي. د اموجا (یووالی) په نامه د ملګرو ملتونو سازمان کمپیوټري پروګرام چې باید د مارچ

په لومړي نېټه په لاره اچول کيده، په همدغې نېټه بريالیتوب سره پیل شو. د ملګرو ملتونو د کارکوونکو لپاره د دغه پروګرام د زدکړې او ظرفیت لوړولو چارې د کویت د ګډ ملاتړ دفتر سره په سلا مشوره دوام درلودې.

۵۰. په نیویارک کې د ملګروملتونو د کنټرولر دفتر په مرسته، یوناما د ۲۰۱۵ د لومړیو شپږو میاشتو لپاره به د موجودو سرچینو پر بنسټ، یوه منځ مهاله بودیجه جوړه کړي تر څو د ۲۰۱۵ د بودیجې د بیا کتنې لپاره، چې باید د ۲۰۱۴ ترپایه نهايي شي، پوره وخت ولري. د مې د میاشتې تر ۳۱ نېټې، یوناما د ۷ سلنې خالي بستونو سره ۱۴۹۶ کارکوونکې درلود چې په کې ۳۴۰ بهرني او۱۱۵۶ کورني کارکوونکي دي. سربیره پر دي، د ملګري ملتونو ۶۰ رضاکاران، ۱۵ پوځي او دوه د پولیس سلاکاران هم په دندې بوخت دي.

**۸. مشاهدي**

۵۱. دغه راپور د افغانستان د مهمو ټاکنو په ترڅ کې خپریږي. تر دې دمه، د نوماندانو او رایه ورکوونکو له خوا د سیاسي ښکیلتیا او ورسره د ټاکنیزو او امنیتي ارګانونو هڅې خورا متاثر کوونکي دي چې د افغانستان په راتلونکې د ملي او نړیوال باور تقویه کوي. د ټاکنو د پایلو پر بنسټ داسې یوه سیاسي لیږد چې نوماندانو او رایه ورکوونکو لپاره د منلو وړ وي، راتلونکې مشرتابه ته به بشپړ صلاحیت ورپه برخه کړي تر څو د هیواد سیاسي، اقتصادي او امنیتي ګواښونه لري کړي. زه د افغانستان ولس، ټاکنیزو ارګانونو او امنیتي ادارو ته  د دغو پرمختګونو لپاره مبارکي وایم. د ګواښونو نه ډک دغه بهیر تر اوسه  پای ته نه دی رسیدلی او تر څو خطر موجود دی، ملګری ملتونه به په فعاله توګه پرې نظر ساتي. ولسمشر کرزي سره په  وروستی لیدنه کې مې، د بې له خنډه او پروخت لیږد دپاره د ده د مداوم ملاتړ هرکلی وکړ.

۵۲. د اپریل د میاشتې پر ۵ نېټه، د خرابې هوا او د تاوتریخوالی د ګواښونو سربیره، د نارینو او ښځو په ګډون د رایه اچونې لومړی  پړاو ولسي لیوالتیا سره پیل شو. دا د افغانانو د ارادې توثیق کوي چې دوی د رای ورکولو د حق په  کارولو سره د خپل هیواد راتلونکې ټاکي. په رښتینه بڼه د افغانانو په مشری او د افغانانو تر اداري لاندې دغه بهیر د  تخنیکي چمتووالی او پلانونو له پلوه، د تیرو ټاکنو په پرتله غوره وو خو دا نه شو ویلای چې مثالي او بشپړ وو. د تقنیني هوکړې پر بنسټ ټاکنیزې ادارې لکه د ټاکنو خپلواک کمیسیون، د ټاکنیزو شکایتونو خپلواک کمیسیون په لومړي ځل جوړې شوې خو لا تر اوسه نوي او د سمسوریدو په بهیر کې دي. د ولسمشریزو ټاکنو دواړو نوماندان، د دوه یم پړاو نه وړاندې په حقه، د اصلاحاتو  غوښتنه وکړه. بې له شکه، د پرمختګ سربیره، نیمګړتیاوې هم وې. سره له دې، موږ باید د لازمې پایلې په اړه شکمن ونه اووسو: داسې د اعتبار وړ بهیر او پایله چې د نوماندانو او افغان ولس لپاره د منلو وړ وي. موږ باید د ولایتي شوراګانو ټاکنې هم هیرې نه کړو چې د ځايي استازیتوب او ځواب ورکونې د تضمین مهم عنصر بلل کیږي.

۵۳. د افغانستان لپاره زما ځانګړی استازی د بهیر د هراړخیزتوب او صداقت په ملاتړ له ټولو همکارانو سره لیدنې تر سره کوي. د ټاکنو د ادارې ارګانونو څخه غوښتنه وشوه چې په خپل عمل او پریکړو کې روڼتیا پیدا کړې تر څو افغان ولس په دې باور وکړي چې د دوی رای اهمیت لري. د دې پریکندې ټاکنې په ټول بهیر کې ځواب ورکونه، د ولس، څارونکو،  کمپاینونو سره رڼې او پر وخت اړیکې او سربیره د رایو شمېرنه او د پایلو قضاوت ډیر زیات د اهمیت وړ دي. د ولسمشریزو ټاکنو دواړو نوماندان چې له ملي شهرت او درناوي څخه برخمن دي هم ډیر زیات مسوولیتونه په غاړه لري. دوی باید خپل پلویان له درغلي منصرف او د ټاکنیزو ارګانونو د چاروکو درناوي وکړي. د قانون سره په سمون د ټاکنیزو شکایتونو د قضاوت وروسته، زه له نوماندانو او د هغوی له پلویانو څخه غواړم چې پایلې ومني. د افغانستان د تاریخ په دې حساس پړاو کې، لوبغاړتوب ته نه بلکه سیاستپوهنې ته اړتیا ده. د ټاکنو وروسته، هر څوک چې ګټونکي وي، د هیواد پر ډیرو متفرقو عناصرو باندې اتکا سره

داسې يوې عامشموله ادارې ته اړتيا ده چې ملي يووالى او ثبات تضمين کړي.

۵٤. په دې ناڅرګنده وخت کې د دولت او د مخالفو وسله والو ډلو تر منځ په رسمي خبرو اترو کې د ډېر لږ پرمختګ امکان وو. ښکاره خبره ده چې د طالبانو په ليکوکې انشعاب رامنځ ته شوی او د دوی يو لږ سخت دريځه عناصر تر اوسه په دې ناسم آند دي چې دوی د جګړې په ډګر کې بريا ترلاسه کولاي شي. په هر صورت، د ټولنې په کچه د سولې لپاره هڅې دوام لري چيرې چې پيچلې او اکثراً د تاوتريخوالو اوږدمهاله دورانونه، څو بُعدى چلند ته اړتيا لري. سرچينو ته د لاسرسى په ګډون داسې نورو مسايلو باندې زړې ځايي شخړې او شکايتونه ياغيانو ته د ګټې اخيستنې فرصت برابرولاي شي. زه د ملګرو ملتونو په ملاتړ د هغو ټولنيزو هڅو هرکلى کوم چې په نورستان ولايت کې اوږدمهاله لانجه حل کړه. زه هيله کوم چې دغه هوکړه به دغو ټولنو لپاره د سوله ايز راتلونکې بنسټ کيږدي او په افغانستان کې يوه پراخ سرمشق وټاکي. زه د مدنې ټولنې په نوښت د سولې لپاره د افغان ولس ديالوګ د وروستي راپور د خپريدو هرکلى کوم چې د عادي افغان نارينو او ښځو لخوا د حقوقو پر بنسټ د سولې راويستلو جامع او هڅوونکى مثال دى. ټاکنې، سياسي بهير ته د افغانانو ژمنتيا او د شخړو او تاوتريخوالو د ردولو يوه بله څرګندونه وه. د ټاکنيزو کمپاينونو په لړ کې نوماندان د سولې لپاره د کار کولو ژمنې وکړې او زه له نوي ولسمشر څخه غواړم چې د افغانانو په مشرې او مالکيت د خبرو اترو د لارو چارو لپاره هڅه وکړي. د ملګرو ملتونو سازمان د ملاتړ لپاره چمتو دى.

۵۵. په ورته مهال کې، ملکي وګړي لا د شخړو مصيبت زغمي او د افغان ځواکونو او دولت مخالف عناصرو تر منځ په نښتو کې ملکي وګړي چې په ځانګړې توګه ډيرى يې ماشومان او ښځې دي، له منځه ځي. د طالبانو له خوا د ټاکنو، چې يوه ملکي بهير دى، د هدف ګرځولو اعلاميه ستره اندېښنه ده. په مجموعي ډول، ډيرى ملکي تلفات د دولت مخالف عناصرو له خوا رامنځته کيږي. زه په ځانګړې توګه د قربانې په واسطه فعاليدونکې د تبعيه شوېو چاوديدونکو توکو په کارونه کې له زياتوالى اندېښمن يم. په افغانستان کې د دغو بې توپېره وسلو د کارولو ختميدل د ملګرو ملتونو د روان ملاتړ موضوع وه او د تېر کال په ترڅ کې د دغو وسلو په کارونه له کمښت څخه په پراخه توګه هرکلى وشو. د ملکي وګړو هدف ګرځول او بې توپېره تاکتيکونه د جګړې له دودونو او اسلامي اصولو څخه سرغړونه ده، او د دولت مخالف عناصرو له خوا د مشروعيت دعوا کمزورې کوي. زه يو ځل بيا د ښکيلو غاړو پرمکلفيت ټينګار کوم چې د ملکي وګړو او جنګيالو تر منځ توپېر وساتي.

۵٦. په هغو لومړيتوبونو کې چې د افغانستان راتلونکې ولسمشر به ورسره مخامخ وي، يو يې د ۲۰۱۴ کال څخه وروسته په افغانستان کې د امريکايي او ناتو ځواکونو د شتون د قانوني چوکاټونو په اړه پريکړه ده. دواړه ولسمشريزو نوماندانو هوډ څرګند کړى چې دغه قانوني چوکاټونه به لاسليک کړي تر څو د افغان بنسټونو د ملاتړ لپاره د تعقيبي روزنې او مرستې د ماموريت د پلان او تطبيق لاره اواره شي. د ټاکنيزو عملياتو په پلانولو او تطبيق او سريېره د ښځو پر خونديتوب ټينګار تر څو دوی وکولاي شي په ټاکنو کې ګډون وکړي، افغان امنيتي ځواکونو ډېر زيات زړورتوب او پر ځان باور څرګند کړ. دغې هڅې پر افغان امنيتي بنسټونو چې د نړيوالو ځواکونو د وتلو په درشل کې له ځانه کلک مقاومت ښودلى، بنسټيز مورال او د خلګو باور لا پياوړى کړى دى.

۵۷. زه پر غړي هيوادونه ټينګار کوم چې په داسې حال کې چې په افغانستان کې د دوی د ځواکونو فزيکي شتون کميږي، د امنيت او پرمختګ لپاره د مرستې مکلفيتونه بايد په دې ډول تر سره شي چې اټکل کيدونکې او د افغانستان د نظام ملاتړ کوونکې وي. داسې انګيرنه بايد وجود ونلري چې ګواکې افغان ولس يوازې پرېښودل شوي دي. د بدلون په ټوله لسيزه کې د ليږد اصلي سرچينه، له نړيوال ملاتړ څخه افغان مشرتابه برخمنه ده. د شيکاګو په ناټو غونډه او د ټوکيو په کنفرانس کې شوې دوه اړخيزې ژمنې بايد وساتل شي. په سپټمبر کې د ناټو غونډه او په نومبر کې د وزيرانو په کچه د لندن پرمختيايي کنفرانس

مهم فرصتونه دي چې د افغانستان نوی دولت سره پر دوه اړخیزو ژمنو ټینګار او ورڅخه ملاتړ څرګند شي.

.۵۸ د مرستو دوام باید د معمول په توګه نه وي. د افغانستان اقتصادي وضعیت سخت د اندېښنې وړ دی او نوې اداره باید په بیړنۍ ډول ورته پاملرنه وکړي. د اقتصادي اصلاحاتو، د قانون واکمنې، ښې حکومتولی او د فساد په وړاندې د مبارزې په ډګر کې باید ربښتنې ژمنې وشي او د دې سربیره، د حقونو، په ځانګړې توګه د ښځو له حقونو د دفاع او ملاتړ په ډګر کې باید چټک پرمختګ وشي. د دولت د عوایدو د زیاتولو او د کاري فرصتونو د ودې لپاره، سختو پریکړو، ګړندي او غښتلي اقداماتو ته اړتیا ده. په کار ده چې د نړیوالو مکلفیتونو سره په سمون د پانګه والو د باور د هڅولو لپاره یوه ثقه څارووںکې چوکاټ باندې ډیر ژر هوکړه وشي. د هراړخیزې ودې د تضمینولو لپاره اړتیا ده چې خصوصي سکتور او مدني ټولنې سره اړیکې او سلا مشورې نور هم پراخ کړي. پر نامشروع اقتصاد زیاتیدونکې اتکاء نه یوازې د افغانستان بلکه د ټولې سیمې اقتصادي او اداري ټینګښت لپاره ګواښ دی چې د فساد او د ترهګرو د مالي تمویل لامل کیږي. د مخدره موادو د ګواښ د اوارې لپاره ربښتنې ژمنو ته اړتیا ده تر څو د نفوذ لرروونکو ډلو د ګټې مخه ونیول شي او تر اوسه، په دې لړ کې د محسوسو پایلو نشتوالی، ډیر د اندېښنې وړ دی.

.۵۹ له اقتصادي نظره، افغانستان او د سیمې نورو هیوادونو تر منځ پیوستون به لا وده وکړي او باید د ګډو ګټو او پراخ ټینګښت کې د پرمختګ لامل وګرځي. کاسا ۱۰۰۰ د بریښنا پروژه د افغانستان له لارې د سیمې د انرژي او سوداګریز پیوستون د استعداد او امکاناتو یوه بیلګه ده. زه د نړیوال بانک له خوا د تمویل د منظورۍ هرکلی کوم او نور هیوادونه او بنسټونه هم هڅوم تر څو د تمویل د تشې په ډکولو کې مرسته وکړي. د راپور ورکونې د مودې په ترڅ کې، د با ثباته او خوندي افغانستان لپاره د استانبول د بهیر د سیمه ایز امنیت او همکارۍ په چوکاټ کې پرمختګ، چې د باور جوړونې په یو لړ اقداماتو کې لیدل کیږي، په چین کې د اګست د میاشتې د وزیرانو د کنفرانس د مخه او وروسته، د دغو اقداماتو چټکولو ته د دوام ورکولو لپاره به فعاله او رغنده ښکیلتیا ته اړتیا ولري.

.٦۰ اوږدمهالې بې وزلې او ناامنې ته په پام سره، داسې احتمال شته چې په افغانستان کې بشردوستانه اړتیاوې لا ډیرې شي. د بیړنیو روغتیایي اړتیاوو سربیره د ذهني صدمې علاج او د ماشومانو خوراځواکي ځانګړې پاملرنه غواړي. افغانستان د پر له پسې، ناڅاپه او ورو پیلیدونکې طبعيي آفاتو د ګواښ سره مخامخ دی. په ځانګړې توګه شمالي ولایتونه، په تیرو څو کلونو کې پرله پسې مرستو ته اړتیا لرله او بیا د روان کال د پسرلي سیلاوونه، پر زیانمیدونکو وګړو، زیربناوو او معیشت باندې ورانوونکې اغیز درلود. څنګه چې د مرستو هڅې احیا او بیارغونې خوا ته ځي، د ناورین مدیریت او د ګواښونو کمولو ته د لومړیتوب ورکولو خورا مهم فرصت لاس ته راځي. په دغو هڅو کې د ګواښونو د لا زیات څارنه او د مځکو د تخصیص او بیرته ستنولو اړوند ستونزې شامل دي. د کورنیو بې ځایه شویو کسانو لپاره د دولت وروستۍ تګلاره، د ناورین د ګواښونو د منظم مدیریت د ملاتړ لپاره ګټوري او عملي لارښوونه او وسیلې برابروي.

.٦۱ زه غواړم چې د یوناما له ټولو کورنې او بهرنې کارکوونکو، او په خاصه توګه زما ځانګړې استازی، ښاغلي یان کوبیش څخه مننه وکړم چې له ننګونو ډک حالاتو کې د افغانستان د خلګو د ملاتړ په برخه کې زموږ د ژمنو د عملي کولو لپاره خپل ایثار او سرښندنې ته دوام ورکوي.